آریانا افغانستان آنلاین
http://www.arianafghanistan.com

فاروق اعظم ۲۰۱۸/۰۲/۱۱

# د لور په پیدا کیدو ولې خفه یو؟

نن په فیس بوک کي چا لیکلي و؛ زموږ په سیمه کي چي جینی پیدا سي مور او پلار یي ډیر خفه وي. دا تکلیف زموږ په ټولنه کي عام دی. ما دا لنډه تبصره دلته په همدغه منظور کړیده.

د لور په پیدا کیدو خفه کیدل موږ ته تر اسلام د مخه د جاهلیت د زماني رواج پاته دی. په یو ځای کښ چي امن نه وي، دولت او د قانون حاکمیت نه وي او ټولنه د ځنګل په قانون چلیږي، هلته د زورور برخه غټه وي. په چور کي د زورور ګټه ده. په ځنګل کي زمری ځکه پاچا دی چي لویې داړي او زورورې متي لري. په یو بدوي ټولنه کي خلک زوی غواړي دا ځکه چي سړی تر ښځي په بدن قوي دی او د چور په چاپیریال کي کور ته ګټه راوړلای سي. قرآن کریم دغه حالت د جاهلیت د زماني یو قبیح عمل ګڼي او د غندلو په ترڅ کي یي فرمایي:

و اذا بشر أحدهم بالأنثی، ظل وجهه مسودا و هو کظیم. سورة النحل آیه ۵۸ ( او کله چي د لور زیری پر یو چا وسي نو مخ یي له قهره تور واوړي). او ښځه ملامتوي چي دا عار دی ماته له کومه راوړی. معلومیږي چي موږ تراوسه لا د اسلام تعالیم پوره نه دي خپل کړي، ...

خپله یوه کیسه درته کوم. زه یو وخت د پوهني وزیر وم. د علماء کرامو ډیر قدر و او تلاښ دا و چي ټولنه بیله تشدده اصلاح کړو او اسلام خلکو ته په صحیح معنی ورسوو. نو دیني مدارسو او عصري ښوونځیو دواړو ته جدي توجه وسوه او په نصاب او منهج کي یي هم ډیر مثبت بدلون راغی. یوه ورځ ملایان راسره ناست و او پر یوه علمي مسئله مو بحث و، چي زما یو پخواني آشنا ملا وویل: زړه می نه غواړي له مجلسه ولاړ سم خو حیا دې وي ښځه مي هلته د سرک پر غاړه ګوښه کښینولي ده، ډیره انتظار سوه، باید ورسم. که اجازه راکړئ!

ما ورته وویل: اول ولي په مجلس کي دومره ډیر کښینستلی؛ تاته تر دغه مجلس د هغي د انتظار ختمول ضرور و. ته باید له هغي معذرت وغواړې، ولو درباندي ثقیل هم وي. زما په خاطر یي وکړه! دوهم داچي د ښځي د نوم سره دې (حیاء دې وي) ولي وویل؟ هغه وویل: ښځه بعضې اوقات چټله وي. حیض و نفاس ته یي اشاره وه. هغه وویل: دا (د حیاء دې وي) اصطلاح زموږ خواته عامه ده. وروسته ما ټول مخاطب کړل او ورته ومي ویل: هغه چاته چي الله (ج) او د هغه رسول (ص) اوچت مقام او عزت ورکړیدی، موږ یي په کوم حق توهینوو؟ و لقد کرمنا بني آدم (صدق الله لعظیم). نر او ښځي دواړو ته یو ډول خطاب دی او د پوښتنی په ورځ به موږ ته په یوه نظر کتل کیږي؛ داځکه قرانکریم نر او ښځه یو ډول خپلو مکلفیتونو ته متوجه کړیدي

(إِنَّ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُسْلِمَاتِ وَالْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَالْقَانِتِينَ وَالْقَانِتَاتِ وَالصَّادِقِينَ وَالصَّادِقَاتِ وَالصَّابِرِينَ وَالصَّابِرَا



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

تِ وَالْخَاشِعِينَ وَالْخَاشِعَاتِ وَالْمُتَصَدِّقِينَ وَالْمُتَصَدِّقَاتِ وَالصَّائِمِينَ وَالصَّائِمَاتِ وَالْحَافِظِينَ فُرُوجَهُمْ وَالْحَافِظَاتِ وَالذَّاكِرِينَ اللَّهَ كَثِيرًا وَالذَّاكِرَاتِ أَعَدَّ اللَّهُ لَهُمْ مَغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا ) سورت الأحزاب، آیه ۳۵.

زه او ته چې مځکه او اسمان پيژنو لمونځ به کوو؛ په ولاړې به يې کوو. که نه، په ناستې به يی کوو. که نه په پروتې او حتی د سترګو په اشارو به يې کوو. چې ترڅو مو سد په سر کې وي، له لمانځه نه خلاصيږو. خو د ښځي چې محضې مزاج خراب سي، لمونځ ورته معاف دی، روژه همداسې ده. ته يې نه سې خوړلای چې په سفر کې نه يې او يا شديد ناروغ نه يې. خو د هغې که مزاج خراب وو روژه ورته معطل ده؛ که اولاد يی په نس وو او ور باندې تکليف و، خوړل ورته روادي؛ که اولاد يې پر تي و او پر خپل يا د کوچني پر صحت ويريده ورته معاف ده.

او چې هر وخت يې بيا حالت سم وو قضايي دې راوګرځوي. موږ او تاسې ته دغه امتيازات يوه نسته...

ختم